مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان
۲۰۲۲/۱۰/۰۵

# د نظر دوکه

کله وګورم اسمان ته

ځالي ځالي وي، چې ولی

کله وګورم سپوږمی ده

تکه سپینه لکه زه وي

کله ګورم کهکشان ته

کوم مجلس لکه د خویندو

کله وګورم خپل ځان ته

فکر، فکر یم چې ولي

کله ورځې ته حیران شم

کله شپې ته فکرمند شم

کله لاړ شمه روان شم

د جهان مخلوق ته ګورم

هر یو خومره بدرنګ ښکاري

خو له بلي نظریي نه

واړه ښکلي راته ښکاري

کله لاړ شمه روان شم

اسمان څه چې ځمکه هم

سم له ما سره روان وي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شنې درې او لوی لوی غرونه

زما له تګ سره روان وي

خو چې زه څنګه درېږم

نو دوی هم راته ولاړ شي

فکر وکړم دا خو زه يم

چې خپل فکر کې بندي يم

د نظر دوکې ته ناست يم

دلته ډير څه له اصليته

پټ پټ پاتې لکه غل چې

په تياره کې څنګه پټ وي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ